مطبوعاتي خبرتیا




**د افغانستان روشن ۱۳۹۵ کال د اتلولۍ ټورنمنټ پیل د وږي په ۴ نېټه**

په هېواد تر ټولو ستر او هیجانوونکی ورزشي بهیر

**سېشنبې د ۱۳۹۵ کال د وږي ۲ نېټه، کابل** – د افغانستان روشن غوره لیګ خپل د ۱۳۹۵ کال د اتلولۍ ټورنمنټ د وږي په څلورمې نېټې له غرمې نه وروسته په ۰۳:۰۰ بجو د افغانستان فوټبال فډراسیون په لوبغالي کې په لاره اچوي.

د پرانېستنې محفل د ځینې بېلابېل او په زړه‌پورې خپرونو سره، لکه، په ژوندۍ بڼه د دریو افغان‌ستورو له خوا د افغانستان روشن غوره لیګ د سندرې ترسره کونه، فراشوټي ترسره کونې، او همدارنګه د ګډون‌کوونکو له خوا د افغانستان جمهوري اسلامي درې‌رنګه بیرغ سره د اسټډیوم ښکلول او داسې نورو هیجانوونکي خپرونو سره لمانځل کېږي.

د پرانېستنې محفل وروسته، د دې ټورنمنټ لومړۍ سیالۍ د سپین‌غر بازان (د تېر کال اتل او د ختیځ استازی) او د سیمرغ البرز (د شمال استازی) تر منځ ترسره کېږي. د یادونې وړ ده چې د افغانستان روشن غوره لیګ د ۱۳۵۹ کال د زمري په ۱۶ نېټه، د یوې روښانه پچه‌اچونې او ژوندۍ بڼې ټلویزوني خپور سره ټولې لوبډلې په دوو A او B ډلو کې ووېشل شوه.

د پرانېستنې محفل او ټولې لوبې په ژوندۍ بڼه د طلوع او لمر ټلویزونونو، د آرمان اف ام او آراکوزیا اف ام راډیوګانو، او همدارنګه د افغانستان روشن غوره لیګ ټولنیزو رسنیو له لارې په ژوندۍ بڼه خپرېږي.

د یادونې وړ ده چې تېر کال د هېواد د ننه او بهر، د افغانستان ۵۷ سلنه جمعیت (څه دباندې ۱۸,۶ میلیونه افغانانو) د سپین‌غر بازان او شاهین آسمایي تر منځ د افغانستان روشن غوره لیګ پایلنې سیالۍ ننداره کړه. (سروې ۲۰۱۵ کال).

ښاغلی کرام‌الدین کرام د افغانستان فوټبال فدراسیون رییس وایي: "په تېرو څلورو څپرکو کې موږ د ملي لوبډلې په بې‌لابېل عمر لرونکي لوبډلو او همدارنګه د هېواد ملي لوبډلې د مشرانو ټیم کې د افغانستان روشن غوره لیګ څخه د نوي لوبغاړو د شتون شاهدان وو. موږ وکولای شو داخلي لوبغاړي چې د ملي لوبډلې غړیتوب لري، د دې لیګ څخه غوره کړو او دې لیګ د ملي لوبډلې لپاره د لوبغاړو ټاکنې آسانتیا برابره کړې. موږ د ملي لوبډلې د ۱۹، ۲۱، او ۲۳ کلنو لپاره هم وکولای شو غوره لوبغاړي وړاندې کړو چې اوس مهال د افغانستان روشن غوره لیګ په لوبډلو کې کې شتون لري چې همدارنګه په ملي لوبډلې کې هم د هغو د غوره ځلېدنې شاهدان وو."

ښاغلي کریم خواجه د روشن شرکت اجراییوي رییس وایي: "موږ په روشن شرکت کې د ورزش څخه د ملاتړ لپاره ژمن یو. ورزش په اصل کې یوې ځانګړې موخې ته د رسېدو لپاره یو ډله‌ییز کار دی. له همدې چلند سره، د افغانستان روشن غوره لیګ ټولو ځوان افغانانو لپاره یو فرصت برابر کړی تر څو له یو بله سره د غوره استعدادونو د ځلېدنې لپاره هلې‌ځلې وکړي. د افغانستان روشن غوره لیګ څخه زموږ ملاتړ د دې لامل شوی چې افغان ځوانان وکولای شي په نړیواله ورزشي لوبغالو کې خپل د هېواد څخه په سمه توګه استازیتوب وکړي او خپل د خلکو لپاره ویاړ ترلاسه کړي."

ښاغلي شفیق ګوهري د افغانستان روشن غوره لیګ کمېشنر وایي: "په هېواد د ګڼ شمېر ستونزو سربېره، د افغانستان روشن غوره لیګ وکولای  شو خپل تېر څلور څپرکي خپل د شریکانو پرلپسې همکاریانو سره پای ته ورسوی. موږ د افغانستان روشن غوره لیګ دوام ته چې په افغانستان کې د فوټبال لومړی مسلکي لیګ دی، ژمن یو. اوس‌مهال د افغانستان روشن غوره لیګ د هیله‌منتیا او ملي وحدت سمبول پېژندل کېږي او هر افغان د وږې په میاشتې کې د ټورنمنټ د پیل انتظار باسي."

**<u>د روشن مخابراتی شرکت په اړه:</u>**
د جوړښت راهیسې، د روشن شرکت په انحصاري توګه د افغانستان روشن غوره لیګ د «سرلیک ملاتړ» دی.

روشن (د افغانستان روشن وده‌کوونکی مخابراتی شرکت)، په افغانستان کې مخکښ مخابراتي شرکت دی چې له ۶,۵ میلیونه څخه زیات فعال ګټه‌اخیستونکي لري. دې شرکت، د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې له ۲۸۷ نه زیاتې ولسوالۍ او ښارونه تر پوښښ لاندې راوړستي.
روشن، د افغانستان د بریا یوه ریښتیني کیسه ده چې د هېواد د اوږدمهاله اقتصادي ودې لپاره یې مرسته کړې. په ۱۳۸۲ کال کې د دې شرکت د فعالیتونو پیل راهیسې، روشن له ۶۰۰ میلیون ډالرو څخه زیاته پانګه اچونې کړې او په هېواد کې تر ټولو ستره پانګه اچوونکی او مالیه ورکوونکی ګڼل کېږي چې په یوازې توګه د افغانستان دولت ۵ سلنه داخلي عاید تأمینوي. له ۹۰۰ څخه زیات کسان په مستقیمه توګه د روشن مخابراتي شبکې سره فعالیت لري چې ۱۹ سلنه یې ښځې جوړوي، همدارنګه، دا شرکت د ۳۵۰۰۰ څخه زیاتره کسانو لپاره په غیر مستقیم توګه د دندې زمینه برابرې کړي.
روشن د افغانستان پرمختګ او بیارغونې ته په ژوره توګه ژمن دی. د اقتصادي ودې لپاره د آغاخان سوندخ (AKFED)، د ودې لپاره د آغاخان د شبکې یوه برخه (AKDN)، د روشن تر ټولو ستر سهم‌لرونکی دی چې په وده‌کوونکي نړۍ کې خصوصي ابتکارات، د ثبات لرونکي او ګټې وړ شرکتونو جوړښت ملاتړ کوي. د دې شرکت د مالکیت یوه برخه د موناکو (MTI) نړیواله مخابراتي شرکت او ټیلیا سونر په واک کې دی. روشن نړیواله تخصص هېواد ته راوړی او په هېواد کې د تر ټولو پورته مخابراتي پوښښ او معیارونو په اړه ژمن دی.

**د پامیر ګروپ په اړه:**

د پامیر ګروپ شرکتونه د ۱۳۹۵ کال د زمري میشاتې څخه د دریو راتلونکو میاشتو لپاره د افغانستان روشن غوره لیګ «رسمي شریک» دی.

د زلال موفق صنعتي شرکت چې د پامیر ګروپ له شرکتونو تولګې څخه دی، د دوو میلیونو ډالرو پانګې سره په ۱۳۸۱ کال کې د هرات په صنعتي شهرک کې د زلال معدني اوبو له تولید سره خپل کار پیل کړ. د بازار د غوښتنو سره سم، چې د بېساري ودې ښکارندویي کوي، دا شرکت ژمن شو چې د زمزم څښاک، د زمرد څښاک، د ماني څښاک، د مېوې اوبو جوس او د پارټي انرژي په څېر نور بېلابېل محصولات هم بازر ته وړاندې کړي. د 40 ډول موټرسېکلونو تولید او مونتاژ سره، په ۱۳۹۰ کال کې د عالي کیفیت او نړیواله معیاري ستنډرډونو درلودو لپاره، د زلال موفق شرکت وکولای شو د HACCP، ISO 9001، ISO14001، ISO22000، G.MP، OHS AS18001، او HALAL سرټیفیکېټونه ترلاسه کونې سره زموږ د ګران هېواد ویاړ لا زیات کړي.

**درباره لیګ برتر افغانستان روشن:**

د افغانستان روشن غوره لیګ په هېواد کې د فوټبال لومړنی مسلکي لیګ دی چې د د ۲۰۱۲ کال د جولای په ۹ نېټه د افغانستان فوټبال فدراسیون (د آسیا لومړنی فوټبال فدراسیون چې په ۱۹۴۸ کال کې یې خپل غړیتوب ترلاسه کړ)، د موبيګروپ (په افغانستان کې تر ټولو لویه رسنیزه ټولګه) او همدارنګه د روشن مخابراتي شرکت (په هېواد کې مخکښ مخابراتي شرکت) له خوا، په لاره واچول شو. د ملي لوبډلې لوبغاړي هغه ځوانان دي چې د «شین میدان» په نامه یو ټلویزوني خپرونې له لارې د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه ټاکل شوي دي. د افغانستان روشن غوره لیګ به د سپټمبر او اکتوبر په میاشتو کې د ۸ لوبډلو او ۱۸ لوبو سره د افغانستان فوټبال فدراسیون په لوبغالي کې په لاره واچول شي او دا لوبډلې به پایلنې او نیمهپایلنې سیالیو ته د لارې موندنې لپاره ولوبېږي. دا سیالی په بشپړه توګه د طلوع (تر ټولو زیات لیدونکي لرونکی ټلویزوني شبکه) او لمر (د پښتو ژبې لومړی شمېره شبکه) ټلویزونونو او همدارنګه د «آرمان اف ام» او «آراکوزیا اف ام» راډیوګانو له لارې خپرېږي. دا سیالی د کېبل له لارې هم په ټوله نړۍ کې خپرېږي.

**د افغانستان فوټبال فدراسیون په اړه: (AFF):**

د افغانستان روشن غوره لیګ د افغانستان فوټبال فدراسیون تر واک لاندې دی. دا فدراسیون په هېواد کې د فوټبال ورزشي رشتې مسئولیت په غاړه لري چې په ۱۳۲۷ کال کې د فیفا غړیتوب یې خپل کړی.

د افغانستان فوټبال فدراسیون یو غیردولتي بنسټ دی چې خپل فعالیتونه یې د ۱۳۰۰ هجري لمریز کال راهیسې پیل کړي. دا فدراسیون یو غیر انتفاعي بنسټ دی او غواړي یوه داسې فضا رامنځ ته کړي چې په هغه کې د فوټبال مینهوال وکولای شي د فوټبال پراخې ټولنې کې ګډون ومومي او د هغه یوه برخه ووسي. دا فدراسیون د فوټبال بېلابېلې سیالۍ د ټورنمنټونو، لیګونو، جامونو له لارې په لاره اچوي او افغانستان کې فوټبالي پوهنیز کورسونه هم مخ ته وړي. د افغانستان فوټبال فدراسیون د (فیفا) نړیواله فدراسیون له خووا په رسمیت پېژندل شوی او کارکوونکي یې د مسلکي پلوه د فیفا او د افغانستان فوټبال فدراسیون له خوا د تأیید وړ دي.

**د موبي ګروپ په اړه**

«موبي ګروپ»، یوه مخکښه رسنیزه ټولګه ده چې څو ټلویزوني شبکې لري. د مرکزي او منځني آسیا څخه تر منځني ختیځ او آفریقا پورې، د ډیجیټلي، خپروني تولید، راډیو، ورزش او استراټیژیکو اړیکو په برخې کې د ۱۷ سوداګریو څښتنولي او مدیریت په واک کې لري. موبيګروپ خپل د فعالیتونو او محتوا زیاتې نامتووالي سره، بریالی شوی چې ګڼ شمېر نړیواله ډالۍ لکه د سن ډانس فېلم فېستېوال، بېپولي خبریالان، د فرانسې بنسټ او د سیول نړیواله ډرامې ډالۍ خپل کړي.

د لا زیاتو معلوماتو او رسنیزو مرکو لپاره کولای شئ د لاندې کسانو سره په اړیکه کې شئ:

**اړیکه:**

**د افغانستان روشن غوره لیګ**
ضیاء آریا
معاون کمېشنر
+93 780 389 241
Zia.Aria@mobygroup.com

**د روشن شرکت:**
شریف شریفی
د عامه اړیکو رییس
+93 79 99 99 065
Shafi.Sharifi@roshan.af

**د افغانستان فوټبال فدراسیون**
سید علي رضا آقازاده
سکرتر جنرال
+93 78 88 98 898
Ali@aff.org.af

**د پامیر ګروپ شرکتونو ټولګه:**
غلام قادر غنی زاده
د بازار موندني مدیر
0785100750
Kabul@pamircyclet.com